




ايمل « مروند »
د نشر نيټه : ۸ می ۲۰۱۳ ميلادی

# نن دې په سترګو کې د تيرې شپې کيسه ورکه ده

ختيځ ادبي بهير ملګرو په خپله ۴۲ مه اونيزه غونډه کې د ځوان شاعر شفق الله شفق په غزل کرکتنه وکړه.

غونډه د ۱۳۹۲ کال د جمعې په مبارکه ورځ د غويي مياشتې په (۱۳) مه نيټه د جلال اباد ښار د ميديوتيک په انګړ کې سيد مصلح الدين د قران پاک د مبارکو اياتونو پرتلاوت پيل کړه.

د دريځ چارې جمال ثاقب مخکي وړلې، مشر يې صاحب الله عابد و او کوربه توب يې محمد اسحاق همت کولو.

په سر کې بهيروالو په ګوشتي ولسوالی کې د وطن په ننګ شهيد محمد قاسم ته د دعا لاسونه لپه کړل او کورنی ته يې د جميل صبر غوښتنه وکړه.

بهيروالو د مجاهد شهيد محمد قاسم ميرانه او د وطن د ساتنې په موخه د شهيد سرخندنه وستايله او پر هغه وياړ وکړ.

د تيرې ناستې ګزارش ايمل مروند ولوستلو او ملګرو يې ستاينه وکړه.

د توکيو د اروزونې په برخه کې د ژمني سره سم شفق خپل غزل ارزونې ته وړاندې کړ، چې مطلع يې داسې وه:

نن دې په سترګو کې د تېرې شپې کيسه ورکه ده
نن دې خبرو کې تر ډېره تلوسه ورکه ده

باز محمد عابد مطلع خوښه کړه، وې ويل ډېره ښکلې ده او هر نيم بيتی يې بېله بېله مانا لري که سرې دويم نيم بيتی ونه لولې هم مانا ترېنه اخيستی شي.

عابد د ځينو ملګرو د پوښتنې په ځواب کې چې نن په کې دوه ځله راغلی وويل:

(( دلته)) د ((نن)) کليمه د حسن تکرار په ډول راغلې ده او بيت ته يې ښکلا وربښلې ده .

عزت الله ځواب که څه هم مطلع خوښه کړه خو د دواړو نيم بيتو ترمنځ يې د تړاو نشتوالي ته ګوته نيوله .

باز عابد بيا ويل چې د نيم بيتو ترمنځ تړاو شته دی. په وينا يې دوی چې تېره شپه کومه ناسته کړې ده نن د هماغې شپې په اړه پوښتنه کوې، چې نن دې په سترګو کې د تېرې شپې کيسه نشته دی، نن دې خبرو کې تر ډېره تلوسه نشته دی.

او د غزل لومړی بیت بیا داسې و:

دا چې د غره لمنه نیسي ښنه نیولی ګوري
د دې شپانه نه د شپېلۍ سوې نغمه ورکه ده

ځواب بیت خوښ کړ. په خبره يې کليوالي انځورونه په کې دي او ريښتيا هم په هيواد کې ډزو ډوز او انقلابونو په غرونو کې شپونکی او نغمې ورکې کړي دي، نو په بيت کې يو ارمان شته دی.
ايمل مړوند ووېل: د شفق شاعري يې لوستې ده ټوله ښکلې ده، خو دا غزل يې د نورې شاعرۍ په څېر نه دی او داسې ښکاري لکه په زور چې يې ليکلی وي. د هغه په خبره په دې بيت کې تکراري او سوليدلي تصويرونه وړاندې شوي دي چې د بيت خوند يې پيکه کړی دی.

د مړوند په وينا مطلب يې دا نه دی چې ګوندې هغه توکي چې نورو شاعرانو ياد کړي دي نوي شاعران دې نه يادوي خو که ښه او په نوي ډول يې ياد کړي کمال به يې کړي وي.
باز عابد بيا ووېل: د بيت له روخ سره جوړ نه دی. په وينا که داسې يو تصوير يې وړاندې کړی و، چې حالاتو اوس غرونو ته شپونکيو لارې بندې کړي دي او نه شي تلی نو په باور يې يو ښه تصوير به يې وړاندې کړی و.

ضاالدين همت مل که څه هم د مړوند د خبرې ملا تړله، خو ويل چې دلته د شاعر موخه دا ده چې کله کله سرې کوم شي ته خير شي نو داسې ښنه نيولی کيږي. دلته هم د شپانه نه نغمه ورکه ده او ورته ښنه نيولی دی.
بختيار ساحل ووېل : (( د شفق شاعري ما لوستې ده ټوله يې ښه شاعري کړې ده او د ښه شعر د ليکولو وړتيا هم لري، زه دا نه وايمه چې شپون او شپيلي چې اجمل اند او نورو شاعرانو ياد کړي دي نور دې نه يادوي، خو هيله مې داده چې موږ په دې زمانه کې اوسو او بايد د دې زماني تصويرونه وړاندې کړو که ياد شوي او تکراري تصويرونه هم يادوو بايد په نوي رنګ او نوي خوند سره يې راوړو)).

د غزل دويم بيت داسې و:

دا لاروی چې د منزل غېږې ته نه رسيږي
دې لاروي نه د مزله په غېږ کې شپه ورکه ده

ځواب په دريم بيت کې د لاروي کليمي ته په اشارې سره ووېل: په لومړي بيت کې چې د نن کليمه تکرار راغلې وه بيت ته يې خوند ورکړی و، خو ولې په دې بيت کې بيا د لاروي کليمې تکرار راتلل دومره خوندرو نه دي راغلي.
نوموړي زياته کړه، شاعر په بيت کې ټوله خبره پوره کړې ده که يو څه يې لوستونکي ته پريښې وو لا به ښه راغلی و.
احمد جمال ثاقب بيا د لاروي کليمه خوښه کړه له انده يې لاروی ډېر ښکلی راغلی دی.
شريف شاهين بيا ويل چې د بيت په مانا يو نه شو چې د لاروي نه د مزله په غېږ کې شپه څنګه ورکه ده.
خو نورو ملګرو ورته ووېل، چې د شپې ورکيدل دلته د لارې ورکيدلو په معنا راغلي دي کله کله يو څوک دومره سرګردانه وي چې لاره يې ورکه کړې وي يا دومره د شپې تياره ورخطا کړی وي چې لاره ترېنه ګډه وډه شي بيا خلک وايي چې شپې پسې اخيستی و.

او دریځوال دریم بیت ته لاړو:

ښکاري توپک ته دې لاس مه وړه د هوسۍ بچي دي
د دې هوسۍ نه په دې شين غره کې چينه ورکه ده

محمود خزان وويل شاعر وايي: ښکاري توپک دې لاس مه وړه د هوسۍ بچي دي ـــ د دې هوسۍ نه په دې شين غره کې چينه ورکه ده. معلومه نه شوه چې د هوسۍ نه چينه ورکه ده او که د بچيو نه يې.
ځواب وويل: دلته د شاعر موخه داده چې ښکاري توپک ته لاس مه وړه د هوسۍ بچي دي. ياني دا هوسۍ واړه واړه بچي لري چې ډز پرې ونه کړې او هسې نه ترېنه پاتې شي د دوی نه چينه ورکه ده.
همت مل بيت ډېر خوښ وکړ. زياته يې کړه دلته يې ډېر ښه عاطفي تصوير چې د روانو او تېرو حالاتو ښه انځورګري کولی شي راخيستی دی.

خو ايمل مړوند بيا هم په خپله خبره ولاړ وې ويل: په دې بيت کې بيا هم تکراري تصوير راخيستل شوی او هغه په نوي رنګ او خوند سره نه دی. نو همدا ده چې بيت يې پيکه کړی دی، د هغه په وينا تر دې وړاندې ډېرو نورو شاعرانو ورته تصوير ډېر ښه کاګلی دی نو که بل څوک يې په خپل شعر کې راخلي بايد په نوي ډول سره يې وکاروي.
ځواب د اجمل اند يو بيت د بيلګې په توګه ياد کړ : ليندہ مه کشکوه سترګې دې ړندې شه ـــ دا د کور کلي کوتره د ښکار نه ده .
وې ويل دلته په دې بيت کې د الفاظو رنګيني او هنريت شتون لري ځکه يې بيت ته ښکلا ورکړې ده.
خو د شفق بيت يوازې يو ساده نصيحت دی، چې ګوره هلکه دا هوسۍ بچي لري او پام چې پرې ډز ونه کړې. نو دلته يوازې ساده خبرې دي او هنريت په کې نشته دی.
نوموړي په شعر کې د هنريت او تغزل په اړه خبرې وکړې، وې ويل هنريت داسې شی نه دی لکه کوم چا، چې ښکلي جامې اغوستي وې او نورو ته ښکلی ښکاري بلکې داسې دی لکه په انسان کې، چې سړيتوب او احلاق وي چې ښکاري نه خو خلکو ته خوند ورکوي، نو هنريت په شعر کې هم همداسې مثال لري.
هغه وويل : (( تغزل په شعر داسې مثال لري لکه په انسان کې چې سړيتوب وي))

او څلورم بيت داسې و:

دا سړی ولی د جګړې مخې ته ځان ورغورځوي
په دې جګړه کې خو د کوم سړي ناره ورکه ده

ملګرو که څه دا بيت تر ډېره ګونګ ياد کړ او وې ويل چې مانا نه ورکوي، خو ځينو يې بيا ويل که د (( کوم)) پر ځای ((ځکه)) راشي يو څه به وړاندې کړي، خو بيا هم څرګند مفهوم له ځان سره نه لري او لوستونکي ترېنه څه نه شي اخيستلی. بهيروالو د شفق نه غوښتنه وکړه، چې په دې بيت او ان په ټول غزل دې يو ځل بيا له سره فکر وکړي او ځينې سموونې يې هم ورته په کې په ګوته کړې.
او د غزل ورستی بيت يا مقطع داسې وه:

يو وخت به وي، چې دې شفقه سر ته وژاړمه
هر وختې څله وايې چې دلته لوپټه ورکه ده

د غزل د مقطعي په اړه هم ملګرو ډېر بحث وکړ خو ټولو ویل، چې دواړه نیم بیتیي سره په خپلو کې هیڅ ډول تړاو نه لري او نه کومه مانا وړاندې کوي نو د شفق نه یې هیله وکړه چې د څلورم او پنځم بیت په اړه خپله خبرې وکړي چې موخه یې ترېنه څه ده.

دریځوال شفق ته بلنه ورکړه نوموړي له ټولو ملګرو مننه وکړه چې په غزل کې یې ورته رغنده مشورې او نظرونه ورکړل او وې ویل چې په دې بیتونو او ان ټول غزل به له سره فکر وکړي.
تر اروزونې وروسته یوه ازاده مشاعره وشوله چې لسګونو تنو په کې خپل شعرونه ولوستل.
په پای کې صاحب الله عابد د دې اونی ناسته ډېره ښه واروزوله او له ملګرو یې هیله وکړه چې په خپل وخت غونډې ته راځي.

غونډه غرمه ناوخته پآی ته ورسیدله.

رپورټر: ایمل « مرووند »

www.said-afghani.org – بازگشت به صفحه اصلی